شریعت
ورځپاڼه
د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷۴ هـ.ش / دوهم پړاو ۱۱۱۱ ګڼه / دوشنبه د صفرالمظفر ۵مه ۱۴۴۸هـ.ق / د چنګاښ ۲۹مه ۱۴۰۵ هـ.ش / د جولای ۲۰مه ۲۰۲۶ میلادي

همکاری‌های صحی میان افغانستان و ازبیکستان گسترش می‌یابد

مولوی حمدالله زاهد، معین غذا و ادویه وزارت صحت عامه کشور و عبدالله عزیزوف، معین وزارت صحت و رئیس اداره توسعه صنعت دوایی ازبیکستان در دیداری بر گسترش همکاری‌های دوجانبه تأکید کردند.

براساس خبرنامه‌ای وزارت صحت عامه؛ این دیدار در ازبیکستان صورت گرفت و دو طرف پیرامون گسترش همکاری‌های دوجانبه در بخش‌های ادویه، تجهیزات طبی، محصولات صحی و غذا، تبادل تجارب، انتقال دانش فنی، ارتقای ظرفیت‌های تخنیکی و توسعه روابط تجارتی بحث کردند.

هم‌چنان مولوی حمدالله زاهد بر اهمیت گسترش همکاری‌های دوجانبه، تبادل تجارب، انتقال دانش فنی و توسعه ظرفیت‌های تخنیکی در راستای بهبود کیفیت دوا، محصولات صحی و غذا تأکید کرد.

در همین حال، مسئولان وزارت صحت اوزبیکستان به توسعه همکاری‌های تخنیکی، تبادل تجارب و اجرای برنامه‌های مشترک با وزارت صحت عامه افغانستان ابراز آمادگی نموده و بر گسترش همکاری‌های دوجانبه تأکید کردند.

افغانستان نړیوالو مارکېټونو ته د لاسرسي پر لور چټک ګامونه اخلي

افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د اقتصادي اړیکو رئیس شفیع اعظم پر خپله اېکس پاڼه لیکلي: له هغه وخته چې له پاکستان سره سوداګري بنده شوې، افغانستان د بدیلو لارو په موندلو کې ښه پرمختګ کړی، چې په دې چارې سره د نړۍ په نویو مارکېټونو کې افغان سوداګرو خپل ځای موندلی او د توکو په چاپ او ځای پر ځای کولو کې یې هم نوښت منځ ته راغلی دی. د شفیع اعظم په لیکنه، له ۲۰۲۱ بیا تر ۲۰۲۴ کال پورې د افغانستان ۶۰ سلنه صادرات یوازې پاکستان ته وو، خو اوس مرکزي اسیا، روسیه، هند، چین، خلیج او اروپایي هېوادونه هم د صادراتو لپاره بدیل مارکېټونه دي. ښاغلي اعظم د همدې نویو مارکېټونو بله ګټه بیا هغه لوړ معیارونه ښودلي، چې افغان سوداګر اړباسي خپل توکو د صادرولو لپاره معیاري بسته بندي وکړي، چې د ده په خبره دا مثبت بدلون دی. ۳مخ

بلخ کې یوه چاڼخونه د ورځې ۶۰۰ ټنه خام تېل تصفیه کوي

د بلخ ولایت د «افغان یاسني آیل» د تېلو د تصفیې فابریکې مسئولین وایي: دغه فابریکه چې د ۵۰ میلیونو امریکایي ډالرو په پانګونه جوړه شوې، هره ورځ له ۶۰۰ ټنو ډېر د قشقري او زمردسای خام تېل تصفیه او کورني بازار ته وړاندې کوي. د یادې فابریکې رئیس سهراب صمدي ویلي، چې په دې تصفیه‌خونه کې د معیاري او پرمختللو ماشینونو په وسیله پټرول، ډیزل او مازوت تولیدېږي... ۳مخ

بهرنیو چارو وزارت کې د کوکنارو د مخنیوي فرمان په هکله غونډه تر سره شوه

د بهرنیو چارو وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د کوکنارو د کښت د ممنوعیت په اړه د اسلامي امارت د مشرتابه د ۳۱م فرمان د تشریح او تبیین غونډه کړې ده. د یاد وزارت د مطبوعاتو او عامه اړیکو رئیس حافظ ضیاء احمد تکل ویلي: په دې غونډه کې د همدې وزارت مالي او اداري مرستیال ډاکټر محمد نعیم، د وزارت یو شمېر مسئولینو، کارکوونکو او علماوو د یاد فرمان پر موخو، ټولنیزو او حقوقي اړخونو او د نشه‌یي توکو د مخنیوي په برخه کې د اسلامي امارت... ۳مخ

بازدید وزیر اطلاعات و فرهنگ از موزیم ملی مجاهد در میدان وردک

شیخ شیر احمد حقانی، وزیر اطلاعات و فرهنگ در دیدار از بخش‌های مختلف ریاست اطلاعات و فرهنگ میدان وردک، ایجاد موزیم ملی مجاهد را از دستاوردهای مهم این ریاست خواند. وزیر اطلاعات و فرهنگ، در سفر به میدان وردک، از بخش های مختلف ریاست اطلاعات و فرهنگ، موزیم ملی مجاهد، کتابخانه و مسجد در حال ساخت این نهاد دیدن کرد. وی در جریان این دیدار در صحبت‌هایش، ایجاد و فعالیت موزیم ملی مجاهد را از دستاورد های مهم ریاست اطلاعات وفرهنگ این ولایت دانسته و گفت: این موزیم تاریخ جهاد کشور را به‌گونهٔ درست به نسل‌های آینده معرفی می‌کند و در حفظ... ص۳

له افغانستان سره د رغنده تعامل پر دوام د چین او روسیې ګډ درېځ

چین او روسیې په یوه ګډه اعلامیه کې له افغانستان سره د امنیت، ثبات، اقتصادي پراختیا او سیمه‌ییزو همکاریو پر دوام ټینګار کړی او افغانستان یې د سیمې د سولې، امنیت او ګډې ودې لپاره مهم هېواد بللی دی. د دواړو هېوادونو په ګډه اعلامیه کې راغلي، چې د افغانستان اړوند د سیاسي او سیمه‌ییزو مسئلو د حل لپاره د سیمه‌ییزو... ۳مخ

بغلان کې د ۲۰۰ زرو ډالرو په پانګونه د څپلیو تولیدي کارخونه جوړه شوه

بغلان کې یوه سوداګر د ۲۰۰ زرو امریکایي ډالرو په پانګونې سره د څپلیو د تولید کارخونې په جوړولو ۷۰ تنو ته په مستقیم او غیرمستقیم ډول د کار زمینه برابره کړې ده. د څپلیو د تولید کارخونې مدیر، عبدالباري ځدراڼ ویلي: «د دې کارخونې پر جوړولو څه باندې ۲۰۰ زره امریکایي ډالره لګښت راغلی او اوس مهال... ۳مخ

افتتاح یک مسجد جامع در ولسوالی سپیره خوست

یک مسجد جامع در منطقه مرزی تنی‌خیل مربوط ولسوالی سپیره ولایت خوست که با هزینه نزدیک به ۹ میلیون افغانی اعمار شده است، امروز به بهره‌برداری سپرده شد. الحاج مفتی عبدالقیوم فرقانی، رییس ارشاد، حج و اوقاف ولایت خوست گفت: این مسجد در زمینی به مساحت ۳۵۲ متر مربع اعمار شده و ظرفیت پذیرش هم‌زمان حدود ۵۰۰ نمازگزار را دارد. هزینه ساخت این مسجد توسط باشندگان منطقه و تاجران خیرخواه تأمین شده است.

سرمقاله

د عامې روغتیا وزارت فعالیتونه باید لا زیات پراخ شي!

روغتیا د یوه انسان د شخصي اړتیا ترڅنګ د یوه ملت د ځواک، سوکالۍ او پرمختګ بنسټ هم ګڼل کېږي. هر هغه حکومت چې د خلکو روغتیا ته لومړیتوب ورکوي، په حقیقت کې د هېواد د راتلونکي د پیاوړتیا لپاره پانګونه کوي. له نېکه مرغه په افغانستان کې هم په وروستیو دوو میاشتو کې د روغتیا وزارت له لوري د روغتیایي خدمتونو د پراختیا په برخه کې داسې عملي ګامونه پورته شوي، چې په نتیجه کې یې زرګونو هېوادوالو ته په اسانه توګه د روغتیا خدمتونه وړاندې شوي او هېوادوال توانېدلي چې په اسانۍ سره د ناروغۍ یا بېړنۍ پېښې په وخت کې روغتیایي مراکزو ته د علاج لپاره رجوع وکړي.

د روغتیا وزارت له لوري د نویو روغتونونو او روغتیایي مرکزونو جوړول، د نیمګړو پروژو بیا فعالول، د بېړنۍ پاملرنې (ICU) څانګو پرانیستل، د معافیت پروګرام د تجهیزاتو لپاره د معیاري زېرمتونونو جوړول او د خوارځواکو ماشومانو د درملنې د څانګو څانګو رامنځته کول، هغه اقدامات دي چې د روغتیایي خدمتونو د پیاوړتیا لپاره د دغه وزارت دوامداره هڅې څرګندوي. د دغو پروژو ارزښت دا دی چې د لرې پرتو سیمو ناروغان به د درملنې لپاره د اوږدو سفرونو له ستونزو خلاص شي، روغتیایي خدمات به خلکو ته نږدې شي او د بېړنیو پېښو پر مهال به د ژوند د ژغورنې امکانات نور هم زیات شي. د روغتیا وزارت د دغه راز پرمختګونو له امله نه یوازې دا چې د هېوادوالو ژوند هوسا شوی، بلکې د هېواد د روغتیایي نظام د پیاوړتیا او پر ځان بسیاینې لپاره هم یو مهم ګام بلل کېږي. سره له دې چې د روغتیا په برخه کې لا هم ډېر کار ته اړتیا شته، خو د وروستیو میاشتو پرمختګونه د دې ښکارندويي کوي چې د روغتیایي زېربناوو د پراختیا بهیر چټک شوی او د هېواد بېلابېلو سیمو ته یې پاملرنه پراخه شوې ده. د دغسې خدمتونو دوام کولی شي د خلکو باور لا پیاوړی او د عامې روغتیا کچه لا لوړه کړي. هیله ده چې اسلامي امارت د روغتیا سکتور ته خپله پاملرنه همداسې دوامداره وساتي او لا یې پراخه کړي، څو د روغتونونو او روغتیایي مرکزونو ترڅنګ د متخصصو طبي کادرونو روزنه، د عصري تجهیزاتو برابرول او د درملنې د کیفیت لوړول هم لا چټک شي، ترڅو د افغانستان هر وګړی د معیاري روغتیایي خدمتونو له نعمت څخه برخمن او د سالمې ټولنې د جوړېدو بهیر لا پیاوړی شي.

د هرات والي:

د نفتي توکو له احتکار کوونکو سره دې قانوني چلند وشي

د هرات والي، شیخ مولانا اسلام جار د پټرولو او ډیزلو د بیو راټیټېدو په برخه کې د دولت او خصوصي سکتور پر همکارۍ او خلکو ته د اسانتیاوو پر برابرولو ټینګار کړی دی. د هرات ولایت د مقام په خبرپاڼه کې د نوموړي له قوله ټینګار شوی چې د پټرولو او ډیزلو بیې باید په بازار کې راکمې شي او له هغو کسانو سره باید قانوني چلند وشي چې پټرول، ډیزل او ګاز احتکاروي. ۳مخ

د معلولیت لرونکو کسانو د زده‌کړو د ملاتړ لپاره د نړیوالې غونډې جوړېدل

د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو اداري د اسلامي امارت د مسئولینو، د لوړو زده‌کړو وزارت د استازو، ملي او نړیوالو بنسټونو او د معلولیت لرونکو کسانو د ملاتړ کوونکو سازمانونو په ګډون د معلولیت لرونکو کسانو د زده‌کړو د ملاتړ نړیواله غونډه جوړه کړه. د غونډې موخه د معلولیت لرونکو کسانو لپاره د زده‌کړو د فرصتونو پراخول، د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو د کیفیت لوړول، د دوی د پیاوړتیا لپاره د اغېزمنو لارو چارو ارزونه او د اړوندو ادارو ترمنځ د همکاریو پیاوړتیا وه. د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو اداري مرستیال مولوي غلام سعید احساس وویل: د معلولیت لرونکو کسانو لپاره د زده‌کړو زمینه برابرول د دې ادارې له اساسي لومړیتوبونو څخه دي. نوموړي زیاته کړه، چې... ۳مخ



دافغانستان اسلامي امارت
د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره
د معلولیت لرونکو کسانو د زده کړو ملاتړ نړیوالې غونډې ته ښه راغلاست
نشست بین‌المللی حمایت از آموزش افراد دارای معلولیت خوش آمدید
Welcome to the International Conference on Support for the Education of Persons with Disabilities

افزایش چشمگیر تولیدات زراعتی در پنجشیر

مقام‌های پنجشیر می‌گویند که امسال حاصلات توت در این ولایت ۱۳ درصد و حاصلات گندم ۱۸ درصد نسبت به سال گذشته افزایش یافته است. به گفته آنان، این افزایش در نتیجه توسعه باغداری، اجرای پروژه‌های زراعتی، بهبود کانال‌های آبیاری و حمایت از باغداران به‌دست آمده است. رییس زراعت، آبیاری و مالداری پنجشیر گفته است که تولید توت امسال از ۳ هزار و ۵۰۰ متریک تُن در سال گذشته به بیش از ۴ هزار متریک تُن افزایش یافته است. همچنان ۱۳۰ تُن گیلاس این ولایت به روسیه و کشورهای... ص۳

د مداحانو قباحت او د مدحې او لویو القابو زیانونه! ۲

د کلیو، ناحیو او ګذر د وکیلانو شرعي او ټولنیز مسئولیتونه ۲

تلاش‌های پیگیر امارت اسلامی برای مدیریت قیمت نفت و گاز ۲

د مداحانو قباحت او د مدحې او لویو القابو زیانونه!

مولوي عبدالله طیب

مداحین یا ستایونکي هغه کسان دي چې د یوه کس په شتون کې د هغه زیات صفات او زیاته مدحه وکړي یا د هغه لپاره داسې القاب جوړ کړي چې په کې نه وي، دغو کسانو ته مداحین ویل کېږي، د یوه کس په شتون کې یا په بله اصطلاح د هغه مخته د هغه له ډېرې ستاینې او ډېرو لویو او غټو لقبونو او نومونو څخه موږ منع شوي یو، ځکه د یوه کس مخته د هغه ستاینه ډېر وخت د تکبر سبب کېږي او په هغه کس کې تکبر او لویې راځي او ځان ورته لوی ښکاري، چې په نتیجه کې یې اعمالو ته نقصان او تاوان رسېږي.
په ترمذي حدیث کې راځي:
ژباړه: له حضرت ابي معمر رضی الله عنه څخه روایت دی، دی وایي: یو سړی ولاړ سو او له امراوو څخه یې د یوه امیر ثناء (ستاینه) وکړه، نو مقداد رضی الله عنه د ده په مخکې خاورې وپاشلې او ویې ویل: رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته امر کړی، چې موږ د مداحینو په مخکې خاورې ور وپاشو.
یعنې د مداحینو یا ستایونکو دومره بدوالی دی چې باید په مخکې یې خاورې وپاشل شي.
او همدا راز په یوه بل حدیث کې له حضرت ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دی، دی وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته امر کړی چې د مداحینو په خولو خاورې وپاشو. ترمذي کتاب الزهد.
ډېره ستاینه او ډېر لوی لوی لقبونه او نومونه هغه خلک خوښوي چې شهرت پرست او په خپلو اعمالو کې ریاء کوونکي وي، ځکه غټ نومونه او لقبونه یا خپله ډېره ستاینه خوښول بغیر له دې څخه چې شهرت او ریاء پکې ده بله هېڅ ګټه او فایده نه ده پرې مرتبه.
هغه کسان هم په مداحینو کې راځي څوک چې د خپل ځان ستاینه او مدحه کوي او په هر مجلس او بندار کې خلکو ته خپل صفات، ستاینه او مدحه کوي.
اوس به دې ته راشو چې د خپل ځان یا د بل کس مدحه یا ستاینه هغه کس ته څومره تاوان رسوي؟
لومړی: د الله تعالی جل جلاله له حکم څخه سرغړونه کېږي، ځکه الله تعالی جل جلاله فرمایي:
ژباړه: تاسو د خپلو ځانونو تزکیه مه کوئ، الله تعالی خبر دی پر هغه چا چې پرهېزګار وي. (۳۲)
یعنې تاسو د خپلو ځانونو تزکیه او ستاینه مه کوئ، د خپل ځان د نېکۍ، تقوی او پاکۍ دعوې مه کوئ، الله تعالی جل جلاله په تاسو او ستاسو په اعمالو ښه خبر دی.
دویم: د رسول الله صلی الله علیه وسلم له احادیثو او ویناوو څخه نافرماني کېږي، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم له دې کار څخه منع کړې ده.
دریېم: اخلاص له منځه ځي، د خپل ځان د ستاینې او د ځان لپاره د لویو او غټو نومونو د خوښولو په سبب له انسان څخه اخلاص له منځه ځي او خپل اعمال د الله تعالی جل جلاله لپاره نه، بلکې د مخلوقاتو لپاره کوي.
څلورم: په انسان کې تکبر او لویې پیدا کېږي، چې په نتیجه کې لویې د انسان اعمال او نېکۍ بربادوي او خرابوي او تکبر کول لویه ګناه ده.
پنځم: که یو څوک د ستاینې یا د لویو او غټو نومونو خوښوونکی، غوښتونکی او شهرت پرست وي، دا کارونه ښکاره ریاء او ځان ښودنه ده، چې ریاء بیا په احادیثو کې شرک اصغر ښودل شوې ده.
شپږم: په ډېرې مدحې او ستاینې سره انسان ته خپل اعمال ډېر لوی او مقبول ښکاري او د نورو نېکو کارونو د کولو هڅه او کوښښ ورڅخه پاتې کېږي.
اووم: ډېره ستاینه، مدحه او لوی لوی نومونه خوښول، د انسان عادت کېږي او همېشه یې د کولو شوق لري چې په نتیجه کې یې اعمال له ریاء او ښودنې څخه پاک نه وي او د الله تعالی لپاره هم نه وي.
اتم: انسان سرکش کوي، سرکشي په دې معنی چې حق نه مني، د چا نصیحت او خبرو ته غوږ نه نیسي او په هر ځای او هره اداره کې د اصولو مراعات کول ورته ګران او منل یې ورته ستونزمن وي.
او همداراز دې ته ورته نور ډېر تاوانونه او ضررونه لري چې زموږ اعمال راخڅه خرابوي او ډېر بد عواقب لري.

د کلیو، ناحیو او ګذر د وکیلانو شرعي او ټولنیز مسئولیتونه

قاري بدرالدین فراهي

اسلام د خیر، اصلاح او متقابل مسئولیت دین دی. د اسلام له نظره هر هغه څوک چې د خلکو د چارو مسئولیت پر غاړه اخلي، که هغه د کلي، ناحیې یا ګذر وکیل وي، د الله تعالی او خلکو پر وړاندې د یوه ستر امانت څښتن ګڼل کېږي. دا مسئولیت یوازې اداري بڼه نه لري، بلکې دیني، اخلاقي او ټولنیز اړخونه هم رانغاړي.
الله تعالی په قرآنکریم کې امر کړی چې امانتونه خپلو اهلو کسانو ته وسپارئ او په عدالت سره پرېکړې وکړئ. همدارنګه رسول الله فرمایلي دي چې هر انسان د خپلې دایرې مشر او ساتونکی دی او د هغو کسانو په اړه به چې د ده تر مسئولیت لاندې وي، د قیامت په ورځ پوښتنه ترې کېږي. له همدې امله د کلي یا سیمې وکیل باید خپله دنده یوازې یو مقام ونه ګڼي، بلکې د خدمت او حساب ورکولو امانت یې وبولي.
د سیمې وکیل باید د خپلو خلکو د دیني او ټولنیزو ګټو ساتنه وکړي. دی باید هڅه وکړي چې د خلکو ترمنځ یووالی، ورورولي او همغږي پیاوړې شي او د اختلاف، دښمنۍ او بې اتفاقۍ مخه ونیول شي. که په سیمه کې کومه شخړه رامنځته کېږي، وکیل باید د علماوو او مشرانو په مرسته د روغې جوړې او عادلانه حل لپاره هڅه وکړي. له مهمو مسئولیتونو څخه یې یو هم د دیني چارو ملاتړ دی. که څه هم د خلکو هدایت یوازې د الله تعالی په لاس کې دی او هېڅوک نشي کولای چې څوک په زور د عبادت پابند کړي، خو وکیل مسئولیت لري چې خلک په نرمۍ، حکمت او ښه نصیحت د جماعت لمانځه، د مسجد آبادۍ او نورو دیني چارو ته وهڅوي. د مسجد د اړتیاوو پوره کول، د امام او دیني ښوونکو ملاتړ او د دیني غونډو د تنظیم لپاره همکاري د ده له مهمو دندو څخه ده.
همدارنګه وکیل باید د خپلې سیمې د بېوزلو، یتیمانو، کونډو او نورو اړمنو کورنیو حال واخلي او د خیرغوښتونکو خلکو په مرسته د هغوی د ستونزو د حل لپاره هڅې وکړي. د ټولنې د کمزورو قشرونو ملاتړ د اسلامي ورورولۍ او انساني خواخوږۍ ښکاره نښه ده.
د ځوانانو روزنه او د دوی د سالمې راتلونکې لپاره کار کول هم د وکیل له مهمو مسئولیتونو څخه دي. دی باید د علماوو، ښوونکو او مشرانو په همکارۍ ځوانان علم، اخلاقو او ښه چلند ته وهڅوي او د نشه‌یي توکو، بې‌اخلاقۍ او نورو ناوړو دودونو د مخنیوي لپاره عملي ګامونه پورته کړي.
د خلکو د ستونزو اورېدل او د دوی د حقونو دفاع کول هم د وکیل اساسي دنده ده. دی باید د خپلې سیمې د اوسېدونکو مشروع غوښتنې اړوندو ادارو ته ورسوي او د دوی د ژوند د ښه والي لپاره په اخلاص او امانت کار وکړي.
البته د وکیل مسئولیت تر هغه حده دی چې وس او اختیار یې رسېږي. الله تعالی هېڅ انسان د ده له وس څخه زیات نه مکلفوي. که وکیل په اخلاص، رښتینولۍ او دوامدارو هڅو خپل مسئولیت ترسره کړي، خو ځینې خلک یې خبرې ونه مني یا د دیني او ټولنیزو سپارښتنو پابندي ونه کړي، د هغوی ګناه د وکیل پر غاړه نه ده. د ده دنده د خیر خوا ته بلنه، نصیحت او هڅه ده، نه دا چې د خلکو زړونه بدل کړي.
باید وویل شي چې د کلي، ناحیې او ګذر وکالت یو درونډ امانت او لوی مسئولیت دی. یو رښتینی وکیل هغه دی چې د خپلې سیمې د خلکو د دین، اخلاقو، یووالي، تعلیم، مسجد، امنیت او هوساینې لپاره په اخلاص او عدالت کار وکړي. که دی خپل مسئولیت په صداقت او امانت ترسره کړي، د الله تعالی له لوري به د لوی اجر مستحق وي او که په دې امانت کې غفلت وکړي، د قیامت په ورځ به د خپل مسئولیت په اړه ځواب ورکوونکی وي. له همدې امله هر وکیل ته ښایي چې خپل مقام د خدمت، اصلاح او د الله تعالی د رضا د ترلاسه کولو وسیله وګرځوي.

تلاش‌های پیگیر امارت اسلامی برای مدیریت قیمت نفت و گاز

محمد نسیم عمری

این روز ها، افزایش بهای نفت و گاز در افغانستان به یکی از نگرانی‌های اساسی مردم تبدیل شده است. بدون شک بالا رفتن قیمت مواد سوختی، بر زندگی روزمره شهروندان، فعالیت‌های تجارتی، حمل‌ونقل و سایر بخش‌های اقتصادی تأثیر مستقیم می‌گذارد و مشکلاتی را برای خانواده‌ها به وجود می‌آورد. از همین رو، مردم انتظار دارند که برای کنترل قیمت‌ها و ایجاد ثبات در بازار، اقدامات مؤثر و عملی صورت گیرد.

امارت اسلامی نیز با درک این وضعیت، تلاش دارد، تا از راه‌های مناسب و قانونی، این مشکل را مدیریت کرده و زمینه کاهش فشار بر مردم را فراهم سازد. مسئولان مربوطه در تلاش اند، تا با بررسی عوامل افزایش قیمت، تنظیم بهتر بازار، نظارت بر واردات، توزیع مواد نفتی و جلوگیری از احتکار و سوءاستفاده، قیمت‌ها را به حالت متعادل بازگردانند. هدف اصلی این اقدامات، تأمین رفاه مردم و ایجاد اطمینان خاطر برای شهروندان است.

امارت اسلامی همواره تأکید کرده است که خدمت به مردم و رفع مشکلات آنان از اولویت‌های اساسی حکومت به شمار می‌رود. موضوع افزایش قیمت نفت و گاز نیز از جمله مسائلی است که به صورت جدی مورد توجه قرار گرفته و مسئولان در تلاش‌اند، تا هرچه زودتر راه‌حل مناسبی برای آن پیدا کنند. در کنار این موضوع، هر مسئله‌ای که موجب سختی و دشواری برای مردم شود، نیز در دستور کار قرار دارد، تا با همکاری نهادهای مسئول و به فضل و کمک خداوند متعال، برای آن راهکار مناسب اتخاذ گردد.

بدون تردید، ثبات اقتصادی و آرامش بازار نیازمند همکاری همه‌جانبه میان مسئولان، تاجران و شهروندان است. اگر همه طرف‌ها مسئولیت خود را به درستی انجام دهند و از احتکار، گران‌فروشی و سوءاستفاده از شرایط خودداری کنند، زمینه برای ایجاد تعادل در بازار و کاهش مشکلات مردم فراهم خواهد شد. در چنین شرایطی، هم منافع عمومی حفظ می‌شود و هم اعتماد میان مردم و مسئولان تقویت خواهد شد. امید است که با یاری خداوند متعال، تلاش‌های مسئولان به نتیجه مطلوب برسد و قیمت نفت، گاز و سایر کالاهای ضروری به سطح مناسب بازگردد، تا مردم با آسودگی بیشتری به زندگی خود ادامه دهند. از شهروندان نیز انتظار می‌رود که با حفظ آرامش و صبر، به شایعات بی‌اساس توجه نکنند و اطمینان داشته باشند که برای حل مشکلات موجود، تلاش‌ها ادامه دارد. ان‌شاءالله هر موضوعی که باعث دشواری و نگرانی مردم شود، با توکل بر خداوند متعال و کوشش مسئولان، در اسرع وقت مورد رسیدگی قرار گرفته و برای آن راه‌حل مناسب اتخاذ خواهد شد.

آغاز کار اعمار یک پل بزرگ در...

انجنیر گل احمد ویار آمر کار و ساختمان ریاست فواید عامه هلمند در رابطه معلومات داده گفت که این پل به درازای ۲۸۰ متر و پهنای ۱۰ متر به صورت معیاری اعمار می گردد. در همین حال باشندگان محل با ابراز خرسندی می گویند که نبود این پل طی سال‌های گذشته مشکلات زیادی را برای مردم ایجاد کرده بود که با تکمیل آن مریضان‌شان به مراکز صحی انتقال داده می شوند و همچنان محصولات زراعتی‌شان به مرکز ولایت به آسانی منتقل می شود.

سمنګانو کې څه باندې ۳/۷ میلیونه...

وروسته د کمېسیون د پرېکړې پر بنسټ تثبیت شوې دي. د معلوماتو له مخې، له ټولې تثبیت شوې ځمکې څخه درې میلیونه، ۳۳۰ زره او ۱۲۶ جریبه لا هم د عامه څړځای په بڼه پاتې ده، خو ۳۷۸ زره او ۵۳۸ جریبه یې خپله طبیعي بڼه له لاسه ورکړې او د خلکو له لوري په للمي او اوبه‌لرونکو کرنیزو ځمکو، استوګنیزو کورونو، عامه تأسیساتو او نورو استفادو بدله شوې ده. د عدلیې وزارت ټینګار کړی، چې د ځمکو له غصب څخه د مخنیوي او د غصب شویو ځمکو د استرداد قانون د ۱۳مې مادې له مخې، پر عامه څړځایونو هر ډول تېری، پر کرنیزو ځمکو یې بدلول، د استوګنې د کورونو جوړول او نور غیرقانوني تصرفات منع دي.
د وزارت په وینا، د مرعی د سروې او تشخیص پلاوي ته دنده سپارل شوې، څو د هغو څړځایونو لپاره، چې له طبیعي حالت څخه وتلي، د قانون له مخې مناسبې حللارې ومومي. د عدلیې وزارت زیاتوي، چې یاد پلاوی د هېواد په نورو ولایتونو کې هم د عامه څړځایونو د سروې او ارزونې چارې پر مخ وړي او د ارزونې له بشپړېدو وروسته به تثبیت شوې ځمکې د ځمکو په بانک کې ثبت شي.

پیشگیری از پیامدهای گرمای ...

راه‌های پیشگیری از این خطرات به شمار می رود. داکتر محمدباقر سعیر، متخصص و جراح مغز و اعصاب در شفاخانه تدریسی علی‌آباد کابل، گفت که آب مایه حیات تمام موجودات زنده است و با افزایش دمای هوا، نیاز بدن به آب نیز به طور قابل ملاحظه‌ای افزایش می یابد. به گفته وی، کم آبی بدن در روزهای گرم می‌تواند سبب گرمازدگی، کاهش سطح هوشیاری و اختلال در عملکرد اعضای بدن خصوصاً مغز و اعصاب شود. وی افزود که در سال جاری، کشورهای اروپایی نیز با موج کم سابقه گرما روبه‌رو شده‌اند که تلفات جانی و مشکلات گسترده صحی را در پی داشته است. به باور او، این وضعیت می تواند هشداری برای افغانستان باشد تا نهادهای مسئول و شهروندان با آمادگی بیشتر و رعایت تدابیر پیشگیرانه، از آسیب های احتمالی جلوگیری کنند. در همین حال، سید مصباح، داکتر شفاخانه الزهرا، اظهار داشت که همه گروه‌های سنی ممکن است در معرض آسیب‌های ناشی از گرمای شدید قرار گیرند، اما کودکان، به خصوص متعلمانی که به مکتب رفت و آمد می کنند، سالمندان، بانوان دارای توان جسمی کمتر و افرادی که در فضای باز و زیر تابش مستقیم آفتاب کار می کنند، مانند دست فروشان و کارگران بیشتر در معرض خطر استند. وی توصیه کرد شهروندان در ساعات گرم روز از قرار گرفتن در زیر نور مستقیم خورشید خودداری کرده، آب و مایعات کافی مصرف کنند، لباس‌های نازک و رنگ روشن بپوشند و در صورت بروز علائمی مانند؛ سرگیجه، سردرد، ضعف یا افزایش شدید دمای بدن، هرچه زودتر به مراکز صحی مراجعه کنند. همچنان خلیل احمد رسولی، داکتر روان‌شناسی، گفت که گرمای شدید برای همه افراد زیان بار است، اما اطفال، سالمندان، دست‌فروشان و به ویژه نیروهای امنیتی که ساعت‌های طولانی در فضای باز انجام وظیفه می کنند، بیش از دیگران در معرض خطر قرار دارند. به گفته وی، گرمای شدید می تواند باعث کم آبی بدن، اختلال در عملکرد کلیه‌ها، گرمازدگی و افزایش خطر سکته مغزی و قلبی شود. او توصیه کرد افراد آب کافی بنوشند، مصرف نوشیدنی های شیرین و انرژی‌زا را کاهش دهند، از لباس های سبک و روشن استفاده کنند و فعالیت های بیرونی خود را تا حد امکان به ساعات خنک‌تر روز موکول سازند. خلیل‌احمد نثاری، یکی از دست فروشان شهر که در اثر گرمای شدید دچار مریضی شده است، می گوید: «برای تأمین نفقه خانواده‌ام ناگزیرم هر روز زیر آفتاب سوزان کار کنم. شدت گرما باعث شده است که بارها احساس ضعف، سرگیجه و بی حالی داشته باشم، اما به دلیل مشکلات اقتصادی چاره‌ای جز ادامه کار ندارم. وی از مسئولان حکومت خواست، تا برای دست‌فروشان مکان مناسب و دارای امکانات اولیه در نظر بگیرند، تا بتوانند به دور از تابش مستقیم آفتاب به فعالیت خود ادامه دهند. او تأکید کرد که ایجاد چنین مکان هایی می تواند از بروز مریضی‌های ناشی از گرمای شدید، از جمله گرمازدگی و کم آبی بدن، جلوگیری کرده و سلامت صدها دست فروش را حفظ کند. همچنان سازمان جهانی هواشناسی نیز اعلام کرده است که انتشار گازهای گلخانه‌ای که عمدتاً از سوزاندن زغال سنگ، نفت و گاز ناشی می شود، میانگین دمای کره زمین را نسبت به دوران پیشا صنعتی حدود ۱/۴ درجه سانتی گراد افزایش داده است. این افزایش دما سبب شده است که موج‌های گرما با شدت و فراوانی بیشتری رخ دهند و خطرات بیشتری برای سلامت انسان‌ها ایجاد کنند.
کارشناسان تأکید می کنند که افزایش آگاهی عمومی، رعایت توصیه‌های صحی و همکاری نهادهای مسئول در اطلاع رسانی و آمادگی برای مقابله با موج‌های گرما، می‌تواند نقش مؤثری در حفظ سلامت شهروندان و کاهش پیامدهای ناگوار گرمای شدید در کشور داشته باشد. **محمد رفیع تیموری**

افغان اعلانات

اطلاعیه دعوت به داوطلبی

ریاست عمومی رادیو تلویزیون در نظر دارد تا قرار داد پروژه تدارک وسایل و تجهیزات ۹ پایه رادیوی پلچرخی را با نمبر تشخیصیه RTA/1405/NCB/G-1843 به ارزش مبلغ ۱۲۵۱۸۰۰ افغانی با شرکت فرهاد صافی انترنیشنل لمتید عقد نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که در زمینه اعتراض در زمینه داشته باشند می توانند خویش را از تاریخ نشر اعلان الی مدت پنج روز تقویمی بطور کتبی توام با دلایل آن به آمریت تهیه و تدارکات ریاست مالی و اداری ریاست عمومی رادیو واقع سرک چهاردهم وزیر محمد اکبر خان ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرار داد نبوده و الی تکمیل معیاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی قرار داد منعقد نخواهد شد.۳۷۱۴

***

اطلاعیه دعوت به داوطلبی

اداره تنظیم خدمات مخابراتی افغانستان اترا از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی (چای چاکلیت و بوره) مورد ضرورت اداره اترا و دارای شماره داوطلبی (ATRA-NCB-G1 -1405) اشتراک نموده و شرطنامه مربوطه را از آمریت قرار داد های ریاست تدارکات ذریعه فلش و یا از ویب سایت این اداره (www.atra.gov.af) بدست آورده آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات بطور سر بسته به تاریخ ۱۴۰۵/۵/۸ پنج شنبه ساعت ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر به آمریت قرار داد ها ریاست تدارکات واقع منزل ۱۳ مقیم تعمیر ۱۸ منزله وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی تسلیم نمایند، آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.۳۷۰۳

***

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوین احمدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۴۳۳۹۱-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای عبدالبشیر فرزند عبدالبصیر بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۳۷۱۰

***

اطلاعیه به کرایه دهی

شرکت امارتی افسوتر حمام به مساحت ۱۱۱.۵ متر مربع واقع سرای شمالی سرک کابل پروان ملکیت خویش را از طریق داوطلبی (آفرگشایی) به کرایه می سپارد.

بناء اشخاص واجد شرایط می توانند بعد از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۲۱ روز به ریاست امور تجارتی افسوتر واقع کوچه گلفروشی شهر نو کابل مراجعه، تضمین نقدا اخذ می گردد.

جلسه به ساعت ده قبل از ظهر در حضور متقاضیان یا نمایندگان با صلاحیت شان برگزار می گردد.۳۶۸۸

***

اعلان مجدد داوطلبی

موضوع: نشر اعلان مجدد سرمایه گذاری جهت اعمار یکباب تانک تیل در ساحه ولسوالی فرخار ولایت تخار:

((شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان در نظر دارد بالای موازی یک قطعه زمین سفید ملکیت خویش که در شاهراه تخار - بدخشان در ساحه ولسوالی فرخار موقعیت دارد، از سرمایه شخصی متقاضیان در بدل امتیاز قرار داد یکباب تانک تیل بشکل مدرن و اساسی اعمار نماید. افراد، اشخاص و شرکت های که خواهش سرمایه گذاری را داشته باشند، اعتبار از تاریخ نشر اعلان هذا الی (۲۱) روز تقویمی با ارائه درخواستی، شرطنامه پروژه اعمار تانک مذکور را در مقابل قیمت مبلغ (۱۰۰۰) افغانی از مدیریت نفت و گاز ولایت تخار و یا از معاونیت جایدادهای تجارتی و ثبت جوازهای شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان واقع سرکوتل خیرخانه جوار ناحیه ۱۷ شاروالی کابل بدست آورده خودشان به روز معینه جهت اشتراک در جلسه آفرگشائی مراجعه نمایند. برطبق شرطنامه تضمین اخذ میگردد.

نوت داوطلبان غرض دریافت نقشه و بل احجام پروژه مذکور، با خود فلش داشته باشند))

***

اعلان مجدد داوطلبی

موضوع: نشر اعلان مجدد داوطلبی اجاره یکباب رستورانت معه یکباب گدام ولایت نیمروز.

((شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان، یکباب رستورانت دارای مساحت ۳۰۰ مترمربع معه یکباب گدام دارای مساحت ۷۲ مترمربع ولایت نیمروز ملکیت خویش را بطور قرار داد به کرایه میدهد، افراد، اشخاص و شرکت های که خواهش قرارداد را داشته باشند، اعتبار از تاریخ نشر اعلان هذا الی (۲۱) روز تقویمی با ارائه رخواستی، شرطنامه داوطلبی رستورانت و گدام مذکور را در بدل قیمت مبلغ (۱۰۰۰) افغانی از مدیریت عمومی نفت و گاز ولایت نیمروز و یا از معاونیت جایدادهای تجارتی و ثبت جوازهای شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان واقع کوتل خیرخانه جوار ناحیه ۱۷ شاروالی شهر کابل بدست آورده خودشان به روز معینه جهت اشتراک در جلسه باز گشائی پیشنهادات مراجعه نمایند. برطبق شرطنامه تضمین اخذ میگردد.))

***

اطلاعیه مفقوی

یک جواز صنفی موتر شویی هادی صفا واقع ناحیه ۵ به اسم سید ذوالفقار علی فرزند سید حسین مفقودگردیده از اعتبار ساقط است.۳۷۰۸

***

اطلاعیه مفقوی

یک قطعه جواز صنفی رستورانت و شیریخ سرای کابل زیبا نمبر ۱۲۶۸۹- ۱۲ واقع مفتی خیل ناحیه ۱۲ به اسم غلام حضرت همت فرزند غلام سخی مفقودگردیده از اعتبار ساقط است. ۳۷۲۸

***

اطلاعیه مفقوی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ناحیه ۱۳ به اسم محمد علی فرزند سرور مفقودگردیده از اعتبار ساقط است. ۳۷۱۵

موضوع: نشر اعلان مجدد یک ساحه معدنی مقیاس کوچک در مربوطات ولایت کنر!

وزارت معادن و پترولیم قرارداد یک پروژه معدنکاری مقیاس کوچک را که مشخصات آن ضم جدول میباشد، غرض جلب علاقه مندان به اعلان می‌سپارد.

علاقه مندان میتوانند از تاریخ ١٤٠٥/٠٤/٢٥ الی ١٤٠٥/٠٥/١٠ ه ش در خواست های شان را به ریاست عمومی کادستر و تطبیق قرارداد ها تسلیم نموده، بعد از ارزیابی ابتدایی شرکت های واجد شرایط میتوانند اسناد لازم را بعد از تحویلی قیمت شرطنامه(پول غیر قابل برگشت) بدست آورند.

بناً ذریعه مکتوب هذا از اداره محترم افغان اعلانات خواهشمندیم تا متن مکتوب و جدول آن را که ضم هذا می‌باشد، در روز نامه های دولتی به نشر سپرده ممنون سازند.

شماره	نوع مواد معدنی	نام ساحه	ولسوالی	ولایت	مساحت (Km^{۲})	کوردینات					
						N-Latitude			E-Longitude		
						S	M	D	S	M	D
۳	نفرایت	باغ افضل خان	سرکانی	کنر	0.516778	15.00	38	34	18.000	6	71
						52.243	37	34	46.815	5	71
						2.117	38	34	32.686	5	71
						16.079	38	34	36.859	5	71
						16.261	38	34	42305	5	71
						18.102	38	34	47.137	5	71
						16.916	38	34	6.430	6	71

د نفتي توکو له احتکار کوونکو سره دې...

د هرات والي همداراز له سوداګرو غوښتي چې د خلکو ترڅنګ ودرېږي او د مسئولینو په همکارۍ د ستونزو په کمولو، د خلکو د اړتیاوو په پوره کولو او د بازار د ثبات په ساتلو کې اغېزمن رول ولوبوي.

د خبرپاڼې له مخې شیخ مولانا اسلام جار دا څرګندونې د نفتي توکو د واردوونکو سوداګرو له ټولنې سره په هغې غونډه کې کړې چې د صنعت او سوداګرۍ ریاست، د هرات د امارتي نفت او ګازو شرکت رئیس او د پمپ‌سټېشنونو د ټولنې استازو پکې ګډون کړی و.

بهرنیو چارو وزارت کې د کوکنارو ...

پر ټګلارې خبرې کړې دي. ډاکټر محمد نعیم ویلي چې نشه‌یي توکي یو ټولنیز زیان دی او مخنیوی یې هم ټولنیز مسئولیت بللی دی. نوموړي ټینګار کړی چې د ټولنې هر فرد باید د عامه پوهاوي په برخه کې خپل مسئولیت ترسره کړي، څو هېوادوال د نشه‌یي توکو له خطرونو خوندي شي. د یاد وزارت مالي او اداري مرستیال زیاته کړې: نشه‌يي توکي له ټولو ډېر د ټولنې ځوان قشر ته زیان رسوي، په داسې حال کې چې ځوانان د ټولنې د پرمختګ او ځواک د ملا تیر بلل کېږي، نو د دوی ساتنه د ټولنې د سالم راتلونکي لپاره مهمه ده.

په غونډه کې د یاد فرمان پر پلي‌کېدو ټینګار شوی او ویل شوي چې د نشه‌یي توکو د کښت، تولید، قاچاق او کاروني مخنیوی نه یوازې د ټولنې د روغتیا او امنیت لپاره مهم دی، بلکې د هېواد د پرمختګ او نړیوال اعتبار په پیاوړتیا کې هم رول لري.

بلخ کې یوه چاڼخونه د ورځې ۶۰۰ ټنه خام...

او د هېواد د کورني بازار د اړتیاوو په پوره کولو کې مهم رول لري. د نوموړي په وینا، سره له دې چې په نړیوالو بازارونو کې د تېلو او ګازو بیې لوړې شوې دي، خو فابریکې هڅه کړې چې د تولید بهیر له ځنډ پرته دوام ومومي او د کورنیو اړتیاوو په پوره کولو کې فعاله ونډه واخلي. ده زیاته کړه، چې په دغې فابریکه کې څه باندې ۱۰۰ کسانو ته په مستقیم ډول د کار زمینه برابره شوې او سلګونه نور کسان یې هم په غیرمستقیم ډول له فعالیتونو ګټه اخلي. بله خوا، د مزارشریف یو شمېر اوسېدونکو د تېلو او ګازو د بیو د وروستیو لوړېدو په اړه اندېښنه څرګنده کړې او له حکومت څخه یې غوښتي، چې په هېواد کې د نورو تصفیه خونو د جوړېدو لپاره هم زمینه برابره کړي، څو د کورني تولید له لارې د بازار اړتیاوې پوره او د بیو د لوړېدو مخه ونیول شي.

د یادونې وړ ده، چې دا مهال په بلخ ولایت کې له لسو ډېرې د تېلو او ګازو تصفیه خونې فعالیت لري او د خامو تېلو د تصفیې له لارې د کورني بازار د اړتیاوو یوه برخه برابروي.

افغانستان نړیوالو مارکیټونو ته د لاسرسي...

دغه راز پاکستاني رسنیو هم پر دې اعتراف کړی، چې کابل د اسلام اباد له لوري د سوداګریزو لارو له تړل کېدو وروسته د بدیلو لارو د موندلو هڅې پیل کړې وې. ډان ورځپاڼې په خپل راپور کې ویلي: کابل په وروستیو کلونو کې د ایران او مرکزي اسیا له لارې نورو هېوادونو سره د سوداګریزو لارو د پراختیا هڅې کړې دي. د یادې ورځپاڼې له لوري خپرې شوې شمېرې ښیي، چې د پاکستان له لارې د افغانستان په سوداګرۍ او ټرانزیټ کې کمښت د ۲۰۲۵ کال په اکتوبر میاشت کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د لارو له تړل کېدو مخکې پیل شوی و. ډان لیکلي: د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته د پاکستان له لارې د افغانستان ټرانزیټ او سوداګري په ۲۰۲۳ مالي کال کې ۶.۷ میلیاردو ډالرو ته ورسېده، خو په ۲۰۲۵ کال کې دا کچه ۱.۳۶ میلیاردو ډالرو ته راښکته شوه. اقتصادي شنونکي وایي: که څه هم د پاکستان له لارې تګ راتګ د افغان سوداګرۍ لپاره نږدې او له اقتصادي پلوه ګټور دی، خو د اسلام‌اباد له لوري د سوداګرۍ سیاسي کول او د فشار د وسیلې په توګه ترې کار اخیستل کابل اړ کړ چې پر پاکستان د تکیې کمولو لپاره نوي ګامونه پورته کړي.

بازدید وزیر اطلاعات...

ارزش‌های تاریخی نقش مهم دارد. همچنان مولوی حبیب‌الله مجاهد رییس اطلاعات و فرهنگ میدان وردک، گفت: این موزیم با امکانات محدود ساخته شده و دارای ۴ بخش است که شامل آثار باستانی، تجهیزات نظامی مجاهدین و وسایل دست‌ساز آنان، نسخه‌های خطی کتاب‌های قدیمی و یادگارهای مربوط به شهدا و فهرست نام‌های شهدا است. وزیر اطلاعات و فرهنگ در جریان این دیدار، از روند کار ساخت مسجد ریاست اطلاعات و فرهنگ نیز دیدن کرد و بر ساخت معیاری آن تاکید کرد. وی ضمن آن که از کارکرد های مسئولان و کارکنان ریاست اطلاعات و فرهنگ میدان وردک قدردانی کرد و به آنان توصیه کرد که در کنار توجه به ارزش‌های فرهنگی و تاریخی، به موضوع دسترسی به اطلاعات نیز توجه کامل داشته باشند.

له افغانستان سره د رغنده...

میکانیزمونو او همغږۍ پیاوړتیا مهمه ده او په دې برخه کې باید ګډې هڅې دوام ومومي. اعلامیه زیاتوي چې چین او روسیه د افغانستان او پاکستان ترمنځ د شته اختلافاتو د هوارې لپاره د خبرو اترو او ډیپلوماسۍ له لارې د همکارۍ چمتووالی لري او باور لري، چې د متقابل تفاهم او رغنده تعامل له لارې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې لا پیاوړې کېدای شي. په اعلامیه کې افغانستان د سیمې د سولې، امنیت او اقتصادي نښلونې مهم محور بلل شوی او ټینګار شوی، چې د سیمه‌ییزو همکاریو پراختیا، اقتصادي اتصال او ګډ پرمختګ د ټولې سیمې په ګټه دی.

چین او روسیې همداراز د افغانستان په تړاو د سیمه‌ییزو همکاریو د دوام، متقابل درناوي او رغنده تعامل پر اهمیت ټینګار کړی او ویلي یې دي، چې د سیمه‌ییزو هېوادونو همغږي کولی شي د اقتصادي همکاریو، سوداګرۍ، ټرانزیټ او اتصال لپاره مناسب فرصتونه رامنځته کړي. د یادونې وړ ده، چې چین او روسیې په وروستیو کلونو کې د افغانستان په تړاو په خپلو ګډو دریځونو کې پر سیمه‌ییز تعامل، اقتصادي همکاریو او د افغانستان له اوسنیو چارواکو سره پر رغنده اړیکو ټینګار کړی او افغانستان د سیمې د ثبات او اقتصادي نښلونې مهم عنصر ګڼلی.

افتتاح دو گلخانه تحقیقاتی...

مساحت ۴۴۰ متر مربع اعمار شده و مجهز به سیستم آبیاری قطره‌ای، ذخیره آب و سایر تأسیسات ضروری هستند. به گفته وی، هزینه اجرای این پروژه حدود ۲۰ هزار دالر امریکایی بوده است. قابل یادآوری است که از این گلخانه‌ها برای انجام تحقیقات زراعتی استفاده خواهد شد و پیش‌بینی می‌شود در هر سال، در سه دوره محصول تولید کنند.

درېیو ولایتونو کې...

د ټولنیزو ستونزو او ناوړو دودونو له امله رامنځته شوې وې د محتسبینو په هڅو او د سیمې د دیني عالمانو او قومي مخورو په منځګړیتوب حل شوې. د یادونې وړ ده، چې محتسبینو په ټولنه کې د نورو منکراتو د مخنیوي تر څنګ په تېره یوه میاشت کې د هېواد په کچه د لسګونو لویو دښمنیو او وړو شخړو مخه نیولې او په دې اړوند یې کړنې لا هم دوام لري.

آغاز توزیع گاز مایع...

ساحۀ شهر هرات همه‌روزه به مردم خدمات ارائه می‌کنند. این اقدام در حالی صورت می‌گیرد که در روزهای اخیر قیمت یک کیلوگرام گاز مایع در بازارهای هرات تا ۸۵ افغانی افزایش یافته بود و باشنده‌گان این ولایت از بلند رفتن قیمت‌ها ابراز نگرانی کرده بودند. شماری از شهروندان هرات از آغاز فروش گاز با قیمت پایین استقبال کرده و خواستار مدیریت قیمت سایر مواد نفتی، به‌ویژه تیل، نیز شده‌اند.

د بهرنیو چارو وزارت ...

خپل اسناد د یادو ولسوالیو د افغان پسټ امارتي شرکت د څانګو له لارې د بهرنیو چارو وزارت یا د دغه وزارت اړوندو ولایتي ریاستونو ته د تصدیق لپاره ولېږي. د بهرنیو چارو وزارت ویلي: د دې خدمتونو موخه د قونسلي چارو د لا چټکتیا، د مراجعینو د تګ راتګ د کمولو او د اسنادو د تصدیق بهیر ته د لا اسانه لاسرسي برابرول دي.

د ریاست الوزراء د اداري...

ښاغلي حنفي له یو شمېر بندیانو سره د خبرو پر مهال د دوی غوښتنې واورېدلې او د زندان مسئولینو ته یې لارښوونه وکړه، چې د اسلامي شریعت د احکامو په رڼا کې د محبوسینو حقوق په بشپړه توګه رعایت او د ساتنې د شرایطو د ښه والي، د روغتیایي خدماتو د وړاندې کولو او د لازمو اسانتیاوو د تأمین ترڅنګ دې د دوی د ستونزو حل ته لازیاته پاملرنه وکړي. ورته مهال د زندان مسئولینو د محبوسینو د وضعیت، د دوی چارو ته د رسېدنې د بهیر او د شویو اقداماتو په اړه لازم معلومات له پلاوي سره شریک کړل او ډاډ یې ورکړ، چې د شته ستونزو د حل او د غوره خدماتو د برابرولو لپاره به دوامدارې هڅې وکړي.

افزایش چشمگیر تولیدات ...

آسیای میانه صادر شده است. مسئولان محلی پنجشیر تأکید کرده‌اند که افزایش تولیدات زراعتی و فراهم‌شدن امکانات نگهداری و پروسس میوه، می‌تواند به افزایش عواید باغداران و رشد اقتصاد محلی کمک کند.

توزیع تجهیزات صحی ...

آن برای دریافت خدمات درمانی به مراکز صحی محلی نیاز دارند. در سال‌های گذشته، نهادهای کمک‌رسان داخلی و بین‌المللی با همکاری وزارت صحت عامه، برنامه‌هایی را برای تقویت نظام صحی، تجهیز مراکز درمانی و افزایش دسترسی مردم به خدمات صحی در این ولایت اجرا کرده‌اند.

د معلولیت لرونکو کسانو ...

د ځانګړو زده‌کړو مرکزونه له ۱۶ څخه ۳۶ ته زیات شوي او اوس ډېرو معلولیت لرونکو کسانو ته د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو د ترلاسه کولو زمینه برابره شوې ده. ده د اورېدنې او لېدنې د معلولیت لرونکو کسانو د زده‌کړو پر اهمیت ټینګار وکړ او ویې ویل، چې تخنیکي او مسلکي زده‌کړې د ټولنې د اقتصادي ودې، د مهارتونو د پراختیا او د کاري فرصتونو د رامنځته کولو لپاره مهم رول لري. د لوړو زده‌کړو وزارت استازي هم تخنیکي او مسلکي زده‌کړې د ټولنې له مهمو اړتیاوو وبللې او ټینګار یې وکړ، چې معلولیت لرونکو کسانو ته د زده‌کړو د فرصتونو برابرول ملي، اسلامي او انساني مسئولیت دی. په افغانستان کې د ناروې کمېټې رئیس وویل: باید د معلولیت لرونکو کسانو پر محدودیتونو نه، بلکې پر وړتیاوو او استعدادونو تمرکز وشي. نوموړي د هغوی د زده‌کړو د کیفیت پر لوړولو ټینګار وکړ او له ټولو ادارو یې وغوښتل، چې د معلولیت لرونکو کسانو اړتیاوې په خپلو پروګرامونو کې شاملې کړي. د غونډې ګډونوالو د ځانګړو زده‌کړو د مرکزونو د پراختیا، د معلولیت لرونکو کسانو لپاره د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو د لاسرسي زیاتولو، د باکیفیته زده‌کړو د پراختیا او د ګډو همکاریو پر پیاوړتیا ټینګار وکړ.

بغلان کې د ۲۰۰ زرو ډالرو ...

نږدې ۷۰ تنو ته په مستقیم او غیرمستقیم ډول د کار زمینه برابره شوې ده. موږ دوو مهمو شیانو ته اړتیا لرو؛ لومړی دا چې اسلامي امارت دې موږ ته د کارخونې لپاره مناسب ځای راکړي او دویم دا چې د مالیاتو په برخه کې دې له موږ سره همکاري وکړي.» د مسئولینو په خبره، د دغې کارخونې تولیدات د پلور لپاره بېلابېلو ولایتونو ته لېږدول کېږي. د کارخونې د تولیداتو د پلور مدیر، حجازالحق ځدراڼ په دې اړه ویلي: «موږ دلته څلور یا پنځه ډوله څپلۍ جوړوو؛ لکه د ماشومانو، نجونو، ښځو او نارینه‌وو څپلۍ، چې په بېلابېلو ډیزاینونو تولیدېږي. زموږ تولیدات د هېواد ټولو شمالي ولایتونو ته لېږل کېږي او ان غزني او کندهار ته هم استول کېږي.» د کارخونې مسئولین وایي: که ملاتړ یې وشي او اسانتیاوې ورته برابرې شي، د خپلو تولیداتو کچه به لوړه کړي او ان په بغلان کې تولید شوې څپلۍ به نورو هېوادونو ته هم صادرې کړي. دوی له خلکو هم غوارې چې د کورنیو تولیداتو په پېرلو سره د پانګوالو او کارګرانو ملاتړ وکړي.

Shariat
Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly , Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : M. Munir Farooqi
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د امارتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: محمد منیر فاروقي / ۰۷۶۴۸۰۸۲۰۵
مسئول سکرتر: رفیع الله رؤفي/ ۰۷۹۵۰۰۰۳۱۰
ډیزاین: محمدیوسف حیدري / ۰۷۹۴۹۸۹۶۹۸
د شریعت برښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلور لارې، د حضوري چمن ختیځ، کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶ /۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Monday 20 July 2026 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 1111

د ریاست الوزراء د اداري مرستیال په مشرۍ پلاوي د بګرام زندان چارې وارزولې

د ریاست الوزراء د اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي په مشري د تشکیلاتو او معاشــونو د تنظیم کمېسیـون له غړو جوړ پلاوي د بګـرام زنـدان د عمومي وضعیت د ارزولـو ترڅنګ له محبوسـینو سـره لیدنه او خبـرې وکړې. ارګ په یــوه خبرپاڼه کــې لیکلي چې د ارزونــې پر مهـال، یاد پلاوي د زنـدان بېلابېلي برخــې وکتلې او د محبوسـینو عمومي وضعیت، د روغتیایـي خدماتو د وړاندې کولو طریقه، د خوراکــي توکو وېش، د ساتنې شرایط، ســتونزو ته رسیده ګــې او نورې اړونــدې چارې یې هم له نږدې وارزولې. **۳مخ**

توزیع تجهیزات صحی برای تقویت ده‌ها مرکز درمانی در فراه

مؤسســه ریلیف بــا حمایت مالی صنــدوق حمایــت از کــودکان ســازمان ملل متحد (یونیســف)، تجهیــزات صحی، غیــر صحی و وسایل کمکی به ارزش ۳۷ میلیون افغانــی را به ۶۵ مرکــز صحی در ولایت فراه سپرد. داکتر محمدولی احمدزی، رییس صحت عامه فراه، گفته اســت که در ایــن برنامه ۱۱۶ قلــم تجهیزات و وســایل مختلف تهیه و به مراکــز صحی این ولایت توزیع شده است. به گفته وی، این تجهیــزات به هدف بهبــود کیفیت خدمات درمانی، تقویت امکانات مراکز صحی و فراهم‌ســازی زمینه دسترســی بهتر مردم بــه خدمات صحی توزیع شده است. مسئولان صحــی فــراه تأکیــد می‌کنند که افزایــش امکانــات و تجهیزات در مراکز صحی، نقش مهمی در ارائه خدمــات بهتر به بیمــاران، به ویژه در مناطق دوردســت دارد. ولایت فراه از جمله ولایت‌هایی اســت که بخش زیادی از باشندگان... **ص۳**

د بهرنیو چارو وزارت ۱۰ ولسوالیو کې د اسنادو د تصدیق لړۍ پیلوي

د افغانستان د اســلامي امارت د بهرنیو چــارو وزارت اعلان کړی، چې د قونسلي خدمتونو د پراختیا او هېوادوالــو تــه د اســانتیاوو د برابرولو په موخه به د هېواد په لسو ولســوالیو کې د مصدقو اســنادو د تصدیــق خدمتونــه پیــل کړي. د وزارت د خبرتیــا له مخې، دغه خدمتونه به د کابل په ســروبي او قره‌باغ، د کندهار په سپین بولدک، د هرات په شینډنډ، د بلخ په کلدار (حیرتان)، د ننګرهار په مومندرې (تورخم)، د هلمند په ګرشــک، د کندز په امــام صاحب، د غزني په جاغوریــو او د پکتیا پــه څمکنیو ولســوالیو کــې وړاندې شــي. د خبرتیا لــه مخې، هېوادوال کولای شــي د ۱۴۰۵ لمریز کال د زمرې له لومړۍ نېټې څخه... **۳مخ**

درېیو ولایتونو کې بېلابېلې شخړې حل شوې

د امر بالمعــروف، نهي عن المنکر او شــکایتونو اورېدلو وزارت خبر ورکــړی، چــې محتســبینو یې په خوست، نورســتان او فراه ولایتونو کې د دیني عالمانو او قومي مخورو په منځګړیتوب د څو کورنیو تر منځ د بېلابېلو موضوعاتو پر سر جوړې شوې شــخړې، چې د ګنو ټولنیزو ستونزو سبب شــوې وې حل او د ښــکېلو اړخونو تر منــځ یې روغه کړې ده. یــاد وزارت په یوه خبرپاڼه کې همدارنګه څرګنده کړې؛ دا اوږد مهاله شخړې، چې... **۳مخ**

پیشگیری از پیامدهای گرمای شدید در کشور

°C
50
40
30
20
10
0
-10
-20

شریعت: با افزایش بی سابقه گرمی هوا در بسیاری از کشورهای جهان، خطرات ناشی از موج گرما نیز رو به افزایش اســت. متخصصان صحی هشــدار می دهند کــه گرمازدگی، کم آبی بــدن و مریضی‌های مرتبط با حــرارت به خصوص ســلامت گروه‌های آسـیب پذیر را تهدید می کند. آنان تأکید دارند که نوشیدن آب کافی، پرهیز از قرار گرفتن در معرض تابش مســتقیم آفتاب، اســتفاده از لباس‌های مناسب و مراجعه به موقع به مراکز صحی در صورت بروز علائم گرمازدگی، از مهم‌ترین... **ص۲**

سمنګانو کې څه باندې ۳.۷ میلیونه جریبه څرځای تثبیت شو

د عدلیــې وزارت وایي: د ځمکو له غصب څخه د مخنیوي او د غصب شویو ځمکو د اســترداد کمېسیون په ســمنګانو ولایت کې له پراخې ارزونې وروسته درې میلیونه ۷۰۸ زره او ۶۶۵ جریبــه عامه څرځای (مرعی) تثبیت او د ځمکو په بانک کې ثبــت کــړې دي. د وزارت په وینا، یاد عامه څرځایونه د سمنګانو ولایت په مرکز ایبکو ښار، حضرت ســلطان، خرم او ســارباغ، فیروز نخچیــر، روی دوآب، دره‌صــوف بــالا، دره‌صــوف پاییــن او خلم ولســوالیو کې موقعیت لري. دغه ځمکې د کمېســیون د ټاکل شوي پلاوي له لوري له ارزونې...**۲مخ**

آغاز توزیع گاز مایع فی کیلو «۶۰» افغانی در هرات

فروش گاز مایع فی کیلو ۶۰ افغانی

هم‌زمان بــا افزایش بهای گاز مایع در بازارهای هرات، مسئولان محلی این ولایت از آغاز روند توزیع گاز مایع فی کیلــو ۶۰ افغانی برای هر کیلوگرام از طریق مراکز دولتی خبر داده‌اند. سخنگوی والی هرات گفته است که این اقدام به هدف کاهش قیمت گاز و فراهم‌ســازی سهولت برای شــهروندان راه‌اندازی شده و مراکز توزیع در چندین... **ص۳**

افتتاح دو گلخانه تحقیقاتی مجهز در لوگر

دو گلخانه معیــاری تحقیقاتی در فــارم ریاســت زراعــت، آبیاری و مالــداری ولایت لوگــر با حمایت مالی دفتر تیکا ترکیه به‌گونه معیاری اعمار وبه بهره‌برداری ســپرده شد. در مراســمی که به همین مناسبت برگزار شده بود، شــیخ عنایت‌الله صلاح‌الدیــن، معــاون والی لوگر، افغانســتان و ترکیــه را دو کشــور دوســت با روابط تاریخی و نزدیک خواند و از دولت ترکیه خواســت تا افزون بر همکاری در بخش زراعت و مالــداری، همکاری‌های خود را در زمینه‌های بازسازی و آموزش نیز گســترش دهد. مکایل تاشدیمیر، رییــس دفتر تیــکا در کابل، گفت که افغانســتان برای تیکا از اهمیت ویــژه‌ای برخــوردار اســت و این گلخانه‌ها به‌صــورت نمونه‌ای و با تجهیزات مورد نیاز ساخته شده‌اند. انجنیر نصیرالدیــن بهیج، آمر امور زراعتی ریاســت زراعت، آبیاری و مالداری لوگر، اظهار داشت که این دو گلخانه در زمینی به... **ص۳**

آغاز کار اعمار یک پل بزرگ در ولسوالی کچکی هلمند

کار اعمــار یک پل بــزرگ بر فراز دریــای هلمند طی مراســمی در ولسوالی کچکی هلمند آغاز شد. ایــن پل به منظور رفع مشــکلات باشــندگان ولســوالی‌های شمال هلمنــد به مرکــز آن ولایت، داد و ستد و انتقال اموال تجاری و رفت و آمد باشــندگان دوطرف دریایی هلمنــد به صــورت معیــاری به هزینه ۱۸۰ میلیون افغانی از سوی وزارت فواید عامه در مدت ۲ سال اعمار میگردد. **ص۲**

امریکا و ایران از حملات تازه بر مواضع نظامی یکدیگر خبر دادند

امریکا و ایران در هشــتمین روز درگیری‌ها اعــلام کردند که اهداف نظامی طرف مقابل را هدف قرار داده‌اند. ســنتکام گفته است که تأسیسات دفاعی، دریایی، انبارهای موشک و طیاره‌های بی‌سرنشین ایران را آماج حملات قرار داده است. در مقابل، اردوی ایران اعلام کرده که دو پایگاه نظامی امریکا در کویت را با طیاره‌های بی‌سرنشین هدف قرار داده است. همزمان، سنتکام از کشته شــدن دو نظامی امریکایی و زخمی شدن چهار تن دیگر در حملات ایران بر مواضع امریکا در اردن خبر داده است.

پاکستانی رژیم له کوېټ سره د دفاعي هوکړې په لټه کې دی

پاکســتانی رژیم له کوېټ ســره د انرژۍ په برخه کې د همکاریو او پانګونې د پراختیــا په بدل کې دفاعي هوکړه کوي. رویټرز د خپلو ســرچینو له قوله راپور ورکړی، چې د دې هوکړې په اړه خبرې لا په لومړنیو پړاوونو کې دي، خو د ایران او امریکا ترمنځ د روانو ترینګلتیاوو له امله د دې بهیر بشــپړېدل له ننګونو سره مخ کېدای شــي. یاد رژیم له دې وړاندې له سعودي عربستان سره هم دفاعي هوکړه کړې وه، چې له مخې یې پر سعودي هر ډول برید د پاکستان پر وړاندې برید ګڼل کېږي.

ممداني لا هم د نتانیاهو د نیولو مسئله څېړي

د امریکا د نیویارک ښــاروال زهران ممداني ویلــي: د ده دفتر لا هم د بنیامین نتانیاهو د نیولو پر موضوع غور کوي، په دې شرط چې هغه په سپتمبر میاشت کې د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلۍ لپاره دې ښار ته سفر وکړي. ممداني له نیویارک ټایمز ســره په مرکه کې ویلي: د اداري حقوقي څانګه یې په فعاله توګه د نوموړي د احتمالي نیول کېدو په اړه بحث کوي، هغه اقدام چې نوموړي یې د ټاکنیز کمپاین پر مهال د تعقیبولو ژمنه کړې وه. د نیویارک ښــاروال، نتانیاهو یو جنګي مجرم بللی چې باید د نړیوالې محکمې له لورې محاکمه شي. دا په داسې حال کې ده، چې نړیوالې جنایي محکمې یا ای‌سي‌سي د ۲۰۲۳کال د اکتوبر پر اوومې پر غزې د بریدونو او له هغې وروسته د جنګي جرمونو د ترسره کولو له کبله په ۲۰۲۴ کال کې د اسرائیلو د لومړي وزیر او نورو مشرانو د نیولو امر صادر کړ.

موج تازه حملات روسیه؛ ده‌ها موشک و پهپاد اوکراین هدف قرار گرفت

رییس جمهور اوکراین اعلام کرده است که روسیه شب گذشته با شلیک بیش از ۴۰ موشک و ۱۲۰ پهپاد تهاجمی، حمله گسترده‌ای را علیه این کشور انجام داده است. ولودیمیر زلنسکی گفته است که در این حملات تاکنون یک تن کشته و ۱۶ تن دیگر زخمی شده‌اند و عملیات امداد و نجات در مناطق آسیب‌دیده ادامه دارد. او افزوده است که روسیه در جریان یک هفته گذشته نیز صدها پهپاد، بمب هدایت شونده و موشک علیه اوکراین استفاده کرده و تقویت سامانه‌های دفاعی را مهم‌ترین نیاز این کشور دانسته است. زلنسکی از متحدان اوکراین خواسته است، تا علاوه بر حمایت دفاعی، فشارهای سیاسی و اقتصادی بر روسیه را نیز ادامه دهند.